# د ناوړه دودونو او رواجونو د کمولو اړوند ښوونیز رساله

د ناوړه رواجونو د کمولو اړوند ښووونيز رساله

خپروونکي: د غږ اوريدل کېږي پروگرام ټيم (EVC)

مالي تمويل: د غږ اوريدل کېږي پروگرام ټيم (EVC)

چاپ: لومړی

د چاپ کال: 1398

د چاپ ځای: کابل، افغانستان

د چاپ ټول حقوق له ناشر سره خوندي دي.

# فهرست مطالب


د ناوړه رواجونو د کمولو اړوند ښوونیز رساله ۵


د ناوړه رواجونو د کمولو اړوند ښوونیز رساله ۵


لومړۍ برخه ۶
عرف او عنعناتو پېژندنه ۶
مطلوب او خوښ رسمونه ۶
د ښځو او سپین ږیرو درناوی ۶
ګاونډیانو سره مرسته ۷
کورنی ژوند ۷
مېلمه پالنه ۸
ناخوښ رسمونه او رواجونه ۹
اجباري واده ۹
ولور ۱۰
د واده زیات لګښتونه ۱۵
زده کړو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي مخنیوی ۱۶
روغتیایي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي مخنیوی ۱۷
میراث او مهر ته د ښځو د لاسرسي مخنیوی ۱۸
د ښځو د هڅولو محدودیت ۱۸
د بیان ازادۍ محدودیت ۱۹
د لور په پرتله زوی ته ارزښت ورکول ۲۰
په تصمیم نیونه کې د ښځو نه ګډون ۲۰
دویمه برخه: اسلام او ناخوښ دودونه ۲۱
تر اسلام مخکې دودونو سره د اوسنیو ناخوښو دودونو پرتله ۲۱
له ناخوښو دودونو او ښځو په تړاو جاهلو رواجونو په وړاندې د اسلام مبارزه ۲۱
اسلام او د ښځو درناوی ۲۱
اسلام او د لور ارزښت ۲۴
اسلام او په ټولنه کې د ښځې شتون ۲۶
اسلام او په ودونو کې زیات لګښتونه ۲۶
اسلام او د بدل واده ۲۷
درېیمه برخه: حل لاره او پایله ۲۹
د ناوړه دودونو پر وړاندې د مبارزې حل لاره ۲۹
سیاسي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه ۳۰
قضایي نظام او ناوړه دودونه ۳۰
اقتصادي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه ۳۰
فرهنګي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه ۳۱
ناوړه رواجونو سره د دولت مبارزه ۳۳

## ❖ مقدمه

### د ناوړه رواجونو د کمولو اړوند ښوونيز رساله

د یوې ټولنې د فرهنګ لویه برخه د هغوي په رواجونو او ټولنيزو کړنو کې نغښتي وي. یوه ټولنه تر ډېره د خپلو رسمونو او رواجونو په وسیله پېژندل کېږي. مهمه پوښتنه دا ده چې د یوې ټولنې ټول رسمونه او رواجونه د خوښې او درناوي وړ دي؟

هغه څه چې ټول يې مني او عقل سره هم سمون لري دا دي چې د انسانو په کړنو کې ځينې وخت تېروتنې ليدل کېږي، له دې اړخه د انسانانو يو شمېر رسمونو کې تېروتنې شتون لري. دې موضوع ته په پام، د يوې سالمې ټولنې د جوړولو او ټولو وګړو د خونديتوب لپاره بسنه کوي چې د ټولنې د ناخوښو رسمونو او د دغو رسمونو د منفي ټکو په هکله خلکو ته معلومات او پوهاوی ورکړل شي. په همدې اساس، دغې اړتيا ته په پام، د دې ليکنې موخه دا ده چې د رسمونو د نامطلوبو نښو په هکله د خلکو پوهاوی لوړ شي او له ټولنې څخه د دغو ناخوښو رسمونو ريښې وويستل شي.

په ۲۰۱۰ کال کې د یوې پراخې څېړنې او د افغانستان په ۲۹ ولايتونو کې له ښځو، سړو، دولتي چارواکو، مذهبي رهبرانو، د ښځو د حقونو فعالانو، مدني بنسټونو او ټولنيزو ډلو سره د مرکو په ترڅ کې يوناما سازمان د بشر- حقونو څانګې موندلي دي چې د افغانستان په ټولو ښاري او کليوالي سيمو او ټولنو کې بېلابېل رسمونه په مختلفو درجو شتون لري.[1]

د دې رسالې په لومړۍ برخه کې په لنډ ډول د خوښو او ناخوښو رسمونو او ادابو يادونه شوې ده، په دويمه برخه کې مو د اسلام له نظره د ناخوښو رسمونو يادونه کړې او په درېيمه برخه کې په لنډ ډول د لاربښوونو او لارو چارو يادونه کړې ده.

[1] – په افغانستان کې ناخوښ رسمونه او د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی مخنيوی قانون تطبيق، UNAMA، دسمبر ۲۰۱۰.

## ۱,۱ د عرف او عنعناتو پېژندنه

عرف هغو عـاداتو، کړنو او بـاورونو ته ویل کېږي چې د یوې ټولنې د وګړو له خوا منل کېږي، بې له دې چې سـوالي یا سـموالي ته يې پام وکړي. په بل عبارت، عرف هغه عادات او رسـمونه دي چې پـه کلي توګه د ټولنې هوښـــیارو خلکو منلي وي او هغه روا بولي. د يو بل تعريف له مخې عرف د هغو هوکړو يـا معيـارونو او اصـــولو ته ویل کېږي چې په عمومي ډول منل شـــوي وي او د يو بل تعريف له مخې، هغه موارد چې په عرف کې شامل دي په لاندې ډول دي:

لومړی: يو ځانګړې فرد د هغې د رامنځته کولو هڅه نه ده کړې، بلکې د ټولنې له لوري ترلاسـه شوي دي.

دويم: د هغوی د پېژندلو لپاره هڅه نه کېږي، بلکې په خپله ښکاره او څرګند دي.

درېیم: ټول خلک يې په اسانۍ پېژني او وضاحت ته اړتيا نه لري.

## ۱,۲ مطلوب او خوښ رسمونه


د هر ډول خلکو پـه فرهنـګ کې ځـانګړې رســـمونه او رواجونه شـــتون لري چې کله د عقل او اخلاقو معيارونه بشـپړ کړي مطلوب او خوښ رسمونه ترې جوړېږي. هغه رواجونه چې په يوه ټولنه کې سـتايل کېږي او د يو اخلاقي او ښـکلي کار په توګه د ټولو د منلو وړ وي. په دې ځای کې د دې ډول رواجونو بېلګو ته اشاره کوو:

### ۱,۲,۱ د ښځو او سپين ږيرو درناوی

د ښـځو او سپين ږيرو د درناوي په برخه کې د ټولنې په کچه ليدل کېږي او څرګنده ده چې يو نيک کار ګڼل کېږي، په دې معنی چې د ښـځو او سـپين ږيرو درناوی کول د ادب يوه نښـه ده. همدا ټکی د دې لامل کېږي چې په ټولنه کې د شتون پرمهال د ټولنې د افرادو انساني کړنې وينو.

د ښـځو درناوی د مور، خور، مېرمنې د درناوي څرګندونه کوي او د سـپين ږيرو درناوی د خپلې نيا او نيکه د درناوي څرګندونه کوي چې په ډېرو کورنيو کې له خپلو اولادونو سره ژوند کوي.

په اسلام کې د ښځو او سپين ږيرو د درناوي په هکله زياتې سپارښتنې شوي دي. د بېلګې په ډول، په يو حديث شريف کې راغلي دي: «ما أكرمَ النِّســاءَ إلَّا كريمٌ ولا أهانَهُنَّ إلا لئيمٌ»[٢] يعني «درانه خلک د ښځو درناوی کوي او سپک خلک يې سپکاوی روا بولي. »



## ١,٢,٢ ګاونډيانو سره مرسته

د ګاونډيانو حقونه: د اوسيدو، کار او زده کړو په ځای کې ګاونډيتوب يو شمېر حقونه رامنځته کوي چې د دواړو لورې له خوا رعايت شي، ژوند يې اسان او ښکلی کېږي، او که چېرې د دواړو يا يو لوري له خوا ورته پام ونه شي، نو د ټولنې امنيت، مينه او ارامتيا له منځه وړي.

د اسلام پيغمبر ټول مسلمانان له ګاونډيو سره مرستې کولو ته هڅولي دي او فرمايلي يې دي چې هغه څوک مسلمان نه دی چې خپله په مړه ګېډه ويده شي په داسې حال کې چې ګاونډي يې وږی وي. له دې حديث څخه دغه پايله ترلاسه کوو چې په اسلام کې د ګاونډيو حقونو ته څومره اهميت ورکړل شوی دی. ځکه چې د يو بل په مهربانۍ او مرستې سره نړۍ له هر ډول ظلم او ستم څه خوندي کېږي.

٢ – الجامع الصغير؛ رقم: ٤١٠٢.

## ۱،۲،۳ کورنی ژوند

پـه ختيځ کې د ژونـد يوه ځـانګړنه د لويو کورنيو لرل دي چې نيا، نيکه، مور او پلار په کې خپل خپـل ځـای او رول لري. پـه دي ډول کورني ژوند کې اولادونه د مينې او محبت هنر زده کوي. په دې ډول کورنيو کې د ځوانې ښځې او خاوند ستونزې، چې د نوي ژوند په پيل کې ورسره مخ کېږي، ژر حل کېږي او يا په اسـانۍ له سـتونزو وځي. د دې لپاره چې په لويو کورنيو کې، د کورنۍ ټول غړي د سـتونزو په ختمولو کې يو بل سره مرسـته کوي، او ځوانان د خپلې ځوانۍ شـور، خوښــي او همت د لويانو د تجربو په سيوري کې تېروي.



## ۱،۲،٤ مېلمه پالنه

زموږ د هېواد يو تر ټولو غوره ځـانګړنـه مېلمه پالنه ده او دا ځانګړنه زموږ د ملي وياړونو يوه برخه ده. په مېلمه پالنه او د خوړو په ښــوېونو کې ډېر قوانين شــتون لري چې خلک يې پلي کوي. عادي حالت دا دی چې په ورين تندي د مېلمه هرکلی وشي او په خپله خوښــه خواړه وخوري. په کاب کې بـايـد خواړه پـاتې نـه شي ځکـه چې هغـه غورځول کېږي او دا اسراف بلـل کېږي. پـه هر هېواد کې ځانګړي عادات شتون لري.

په افغانستان کې د مېلمنو ځای د دراوي په پار د کور په لوړ ځای یا له دروازې څخه لیرې وي. لومړی د مېلمنو هرکلی کېږي او کوربه تر ټولو وروستی د خوړو په خوړولو بوختېږي او معمولاً لږ خواړه خوري. یو ښــه کوربـه لږ تر لږه درې وارې لـه مېلمه ته وړاندیز کوي چې که نورو خوړو ته اړتیا لري او مېلمه هم په منني سره دغه وړاندیز ردوي.

د اسـلام له نظره د مېلمه پالنې په تړاو زیات شـمېر احادیث شـتون لري او د احادیثو په ځینې کتـابونو کې آن د « فضـيلة الضـيافة» یعنی د مېلمه پالنې په عنوان ځانګړي څپرکي شـــتون لري. د دې موضوع په هکله د حضرت محمد صلی الله علیه وسم د حدیث یادونه کوو چې فرمايي:

> لايُضيفُ الضَّيفَ الاّ كُلُّ مُؤمنٍ.
>
> هر مومن باید مېلمه دوست او مېلمه پال اوسي

## ۱,۳ ناخوښ رسمونه او رواجونه

د ښـځو او نجونو له هر ډول حقونو سرغړونه د ناخوښـو رسـمونو په نامه يادېږي، خو د ښـځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي یو شـــمېر ډولونه شـــتون لري چې د ټولنې د غړو له خوا د فرهنګ او مـذهـب په توجیح کېږي. دا ډول تاوتریخوالی معمولاً د ناخوښـــو دودونو او رســـمونو په توګه پېژندل کېږي. دا رسمونه او رواجونه په پراخه توګه د ښځو او نجونو په نه رضایت کې ترسره کېږي.

د ښـــځو او نجونو پر وړاندې ناخوښ رســـمونه په حقیقت کې په ټولنه کې د ښـــځو په ځای او موقف اړونـد تنـګ نظرو نظرونو او بـاورونو څخه سرچینه اخلي. په ټولنه کې د مشـــخصـــو توپیرونو او توقعـاتو رامنځتـه کول، ښـــځې له زېږیدنې څخه نیولې د ټول ژوند په اوږدو کې په یو ټیټ موقف کې دروي. ناخوښـــو رســـمونو او فرهنګي دودونو په ټولنه کې د ښـځو ټیټ موقف ســـاتلی دی او هغه روا بولي، او په عین وخت کې، د جنسیتي تاوتریخوالي د زیاتوالي لامل کېږي.[۳]

### ۱,۳,۱ اجباري واده

اجبـاري واده هغـه وضـــعیـت ته ویل کېږي چې یو فرد په زور، تهدید او تاوتریخوالي سره یو فرد واده کول تـه اړ کړي، چې لـه امله یې د فزیکي، رواني او روحي ازار لامل کېږي. اجباري واده له هغه واده څخـه عبـارت دی چې د واده دواړه یو لوری د واده پـه اړه ازادانـه او بشـــپړ رضـــایـت نه لري. په

[۳] – د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړنیز بنسټ، عرف، دودونه، او باورونه چې د ښځو د حقونو د نقض لامل کېږي، ۲۰۱۳، ص ۸.

افغانســتان کې د اجباري واده بېلګې د شــخړو د حل لپاره په بدو کې د نجونو ورکول، د بدل واده، د کم عمره نجونو او هلکانو ودول (چې د اجباري واده یو ډول دی) او د کونډو ښــځو اړ ویســتل چې د وفات شــوي مېړه د کورنۍ یو غړي سره واده وکړي. د دې ســتونزې لپاره د حل لارې د پیدا کولو لپاره مهمه ده چې د دغه پدیدې عواملو ته پام وکړو چې په دې ځای کې ځینې مواردو ته اشاره کوو:

لومړی: نیستي، چې خلک د پیسو د ترلاسه کولو لپاره دغه کار کوي،

دویم: ناپوهي، هغه خلک چې دا کار کوي، د دغه کار له پایلو او د مدني او اســلامي قوانینو په هکله معلومات نه لري، او

درېیم: د ښځو د ځپلو فکر.

ښه به دا وي چې دغه موضوع د ځینې پوښتنو په مطرح کولو سره نوره هم واضح کړو.



## ۱،۳،۲ ولور

ولور یعنی هغه پیســې چې د زوم د کورنۍ له خوا د ناوې پلار یا سرپرست ته ورکول کېږي، چې په ځینې سیمو کې د دې پیسو مقدار ډېر زیات دی او په افغانستان کې یو له ناخوښو دودونو له ډلې څخـه دی. پـه افغـانســتان د فقر پراخې کچې ته په کتو، زیات ولور معمولاً د اجباري ودونو، له وخته مخکې ودونو، د لوڼو خرڅولو او کورني تاوتریخوالي رامنځته کوي. د دې ډول زیات ولور له امله ځینې

سـرې ډېر پوروړي کېږي  او د خپلو پورونو د پرې کولو له امله ډېر غوسه کېږي او کينه اخلي چې دغه غوسه او کينه په خپلې مېرمنې سړوي.

هغه څه چې په اسـلامي شرعيت کې د واده پرمهال له سـړي تمه کېږي دا دي چې مېرمنې ته يوه ډالۍ وروبخښي، چې د مهر په نامه يادېږي. خو ولور، په اسلام کې هېڅ شتون نه لري. دغه ډالۍ بايد مېرمنې ته د هغې د غوښــتنې په صـورت کې سـمدسـتي له ځنډ پرته ورکړل شي. دغه ډالۍ په قرآنکريم کې د صـداق په نامه ياده شـوې ده. مهر د ښـځې مسـلم حق دی او په سـړي واجب ده چې دغه حق يې ورکړي. په قرآنکريم په دې اړه يادونه شـوې ده چې د ښـځې د غوښـتنې په صورت کې د هغې مهر بايد بې له ځنډه هغې ته ورکړل شي. ښــځې ته د هغې مهر نه ورکول د اســلام خلاف او يو غير شرعي عمل دی.

### ۱،۳،۲،۱ د افغانســتان په قوانينو کې د اجباري واده عاملينو ته کومې جزاګانې ټاکل شــوي دي؟

د جزا قانون په ۵۱۷ مه ماده کې راغلي دي چې که چېرې يو شــخص يوه ښــځه د هغې د نظر په پام کې نيولو پرته په اجباري توګه واده کړي، د کمې مودې په بند محکومېږي.

### ۱،۳،۲،۲ اجبـاري ودونـه د قربـاني په ژوند او بالاخره په ټولنه باندې کومې منفي اغېزې لرلی شي؟

د موجودو راپورونو له مخې، اجباري ودونه ناوړه پايلې لري لکه ځان وژنه، ځان سوځونه، له کوره تېښــتــه، د کورنۍ پر وړاندې د ښــځې کينه، او بېلتون. د ټولنيز ليدلورې له مخې، اجباري ودونه د اخلاقي فساد د زياتوالي باعث هم کېږي او په پای کې د اجباري ودونو پايلې د جبران وړ نه وي.



### ۱،۳،۲،۳ څنګه کولی شو چې کورنۍ د اجباري ودونو له پايلو څخه خبر کړو؟

د دې پـديـدې پر وړاندې د مبارزې تر ټولو غوره لاره دا ده چې د جوماتونو او مدرســـو ملا امان خلکو ته په دې اړه خبرې وکړي. ملا امان په خپلو خبرو کې تر ډېر هڅه وکړي چې خلکو ته د ښــځو په هکله هغه څه بيان کړي چې اسلام کې يې يادونه شوي ده.

همـدارنګـه بـايـد د اجباري ودونو د ناوړه پايلو په اړه د برنامو په خپرولو سره د دې کار په کمولو کې رول لرلی شي. لـه بـل پلوه، د اجباري ودونو عاملينو ته جزا ورکول هم په ټولنه کې د دې عمل د کمولو باعث کېدی شي. له دې وروسته د اجباري ودونو د يو شمېر ډولونو يادونه کوو:

### ۱،۳،۱،٤ (د شخړو د حل لپاره) په بدو کې د ښځو ورکول

د شــخړو د حلولو په موخه په بدو کې د ښــځو ورکول په افغانســتان کې د ښــځو پر وړاندې د تاوتريخوالي تر ټولو بد ډول دی. له بده مرغه، دغه ناخوښ دود په ټول افغانسـتان کې شتون لري، په داسـې حال کې چې دا عمل د قانون له مخې جرم دی. لکه څنګه چې ورته اشـاره وشـوه، د شخړو د حلولو په موخه، په بدو کې د ښځو د ورکولو دود په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي تر ټولو بده بېلګه ده. په بدو کې د ښــځو ورکول کورنيو يا ټولنو ته فرصــت ورکوي چې يو فرد د جرم بار د يوې ښـځې يا نجلۍ په غاړه واچوي او په دې توګه يو شمېر جرايم لکه قتل داسې حل کړي او د دواړو لورو ترمنځ سوله راولي. د دغه دود له مخې، هغه فرد چې جرم يې ترسره کړی وي، که هغه پلار وي يا ورور او يا د ښځې کوم بل خپلوان، د متضرر د کورنۍ له لوري بخښل کېږي، که چېري د قاتل کورنۍ د متضـرر کورنۍ ته ښـځه يا نجلۍ په بدو کې ورکړي. په بدو کې د ښځو ورکولو څخه د يو شمېر لويو شـخړو لکه قتل، او همدارنګه اخلاقي جرمونو لکه زنا، تجاوز او له کوره د ښـځو تېښـته (لکه د اجباري واده څخه تېښــتې) د حلولو لپاره کار اخېســتل کېږي. د شــخړو د حل لپاره له دې تګلارې د کارولو اغېزنـاکتوب هم شـــکونـه لري، ځکـه چې د بـدو ورکولو وروســـته هم په ډېرو مواردو کې جنجالونه او شخړې د دواړو لورو ترمنځ دوام لري.[٤]

[٤] – نهاد تحقيقاتی حقوق زنان و اطفال، عرف، عنعنات و باورهايی که سبب نقض حقوق زنان می‌شود، ۲۰۱۳، ص ۱۹.

د بدو ورکول عموماً د سـیمې د شـورا، جرګې او سـپین ږیرو په ناسـته کې پلي کېږي. د بدو ورکول هغـه وخـت ترسره کېږي چې یو سـړي د بلي کورنۍ کوم غړی وژلی وي یا یې د یو چا په حق کې لوی جرم ترسره کړی وي. پـه دې اسـاس، د نورو وژنو د مخنیوي لپـاره د وژونکي کورنۍ خپلې نجونې د مقتول کورنۍ ته په نکاح کوي. داسـې ډېر لیدل شـوي دي چې هغه نجلۍ چې په بدو کې ورکول شوي وي، د خپل خاوند په کور کې له هر ډول حقونو بې برخې وي او تل ځورول کېږي.

له بل پلوه، د بد ورکولو په تړاو چې کومې څېړنې او مرکې په ټول هېواد کې ترسره شـوي دي، دا څرګندوي چې په افغانستان کې د بدو ورکول په پراخه توګه شتون لري، خو ډېری خلکو تري کرکه څرګنـده کړې ده. پـه همـدې څېړنو کې راغلي دي چې هغـه نجونې چې پـه بدو کې ورکول کېږي د خپل خاوند په کور کې هېڅکله درناوی نه لري او هغوي یې د کورنۍ له لوري په ترسره شوي جرم کې شریکه بولي او د یوې خدمتګارې او د انتقام د وسیلې په توګه له هغې سره چلند کوي.[٥]

## ١،٣،١،٤،١ په بدو کې د نجونو د ورکولو عوامل څه دي؟

د دې رســم د تکراري ترسره کولو یو علت د خلکو فرهنګي کمزوري او بل علت یې د قوانینو په نافذولو کې د قانون ناکامي ښـودل شـوي دي. خلک دغه رسـم ته چې له دولتي بنسـټونو بهر ترسره کېږي، دولت ته د مراجعې پر ځای ترجیح ورکوي. دا چې په عدلي او قضـایي بنسټونو کې په دې اړه کوم شـکایت نه دی ثبت شـوی چې وڅېړل شي، نو په همدې اسـاس، د دغه ناسـم دود قربانیان نه شي کولی ادعا وکړي.

په دې یوه بل لوی لامل چې ډېره برخه لري د خلکو د زده کړو او پوهاوي کچې کموالی دی. د زده کړو د کچې په لوړیدو، خلک د خپلو دیني او شرعي مسـایلو په هکله ډېره پوهه ترلاسـه کوي او په خپلو حقونو او امتیازاتو سره بلدېږي او د دغه رسـم د غیر انسـاني کېدو ته یې ډېر پام اوړي. مردم از مسـائل دینی و شرعی خود معرفت بیشـتر حاصل می‌کنند و به حقوق و امتیازات خود واقف می‌شوند و به غیرانسانی بودن این رسم بیشتر توجه می‌کنند.

## ١،٣،١،٥ له وخته مخکې واده (په کم عمر کې واده)

واده یو مهم ټولنیز دود دی چې د انسان د ژوند په ټولو اړخونو اغېز لري د دې لپاره په جسمي، رواني او ټولنیز ډول چمتوالی اړین دی. پـه همـدې اسـاس، د ډېرو هېوادونو پـه حقوقي قوانینو کې

[٥] – عرف و عنعنات ناپسند و تطبیق قانون منع خشونت علیه زنان در افغانستان، UNAMA، دسامبر ۲۰۱۰.

ورتـه د تر ټولو ټيټ عمر حد تاکل شــوی دی. له وخته مخکې واده په دواړو جنســونو اغېز لري، خو نجوني ډېر تر ګواښ لاندې وي او شـديدو ستونزو او عوارضو سره مخ کېږي. تر هغه ځایه چې دا پېښه تر ډېره فقر او جنسيتي نابرابرۍ پورې تړاو لري، ټولنيز، فرهنګي او اقتصادي اړخونه لري او يو شمېر عوامل يې له فقر، له وخته مخکې جنسي‌ــ فعاليت مخنيوی، د کورنۍ د عزت ســاتنه او داســې نور فرهنګي او ټولنيز عوامل.

له وخته مخکې واده د ماشـومانو د ډېروالي، له وخته مخکې حمل او ماشـوم ضايع کېدنې او د ځوانو مېندو د مړينې لامل کېږي. همدارنګه د غير طبيعي ضــايع کېدنو او نارســيدلو ماشــومانو د زېږېدنې ګواښونه زياتوي. په روحي لحاظ د ټولنيزې انزوا، خفګان او ځينې وختونه د ځان او خاوند د وژنې احتمال زيـاتوي. پـه دې ډول ودونو کې، نـاوې تر ډېره د تـاوتريخوالي سره مخ کېږي. او په ډېرو پېښو کې د امکان تر کچې د ساتنې اړوند پاملرنو ته لاسرسی نه لري.

دا ډول ودونه معمولاً د کم عايد او کم تحصــيل لرونکو کورنيو کې ډېر ترسره کېږي. خو له بده مرغه، ليدل شــوي چې دا ســتونزه يواځې په بېوزله کورنيو پورې محدوده نه ده، بلکې په مالي لحاظ غښتلې کورنۍ هم ځينې وختونه خپلط نجونې قانوني عمر ته له رسيدو مخکې ودوي.

### ۱،۳،۱،۵،۱ له وخته مخکې واده عوامل

فقر: په ســختو اقتصــادي شرايطو او وچکالۍ کې کورنۍ د خپلو نجونو د ودولو په اړه فکر کوي څو اقتصــادي بـار يې ســپک شي. په دې ځای کې د بېوزله کورنيو د اړتياو د پوره کولو په موخه په ماشـومانو معامله ترسره کېږي. خو ښـه ده چې پوه شـو چې دا په ډېرو ټولنو کې صـدق کوي، خو ټل داسې نه وي، آن ځينې وختونه فقر د ودونو د ځنډ لامل کېږي.

د کورنۍ د عزت سـاتنه: په دوديز ډول، د دې لپاره چې نجونې له واده مخکې په جنسي- اړيکو کې ښــکېل نه شي، نجونې له وخته مخکې ودېږي چې په دې ځای کې اخلاقي اندېښــنې له وخته مخکې واده مؤثر عوامـل بلل کېږي. د دې ترڅنګ، مور او پلار احســاس کوي چې ژر تر ژره د نجونو ودول د هغوی د نجونو د جنسي خونديتوب ډاډ ورکوي او د هغوی د کورنۍ عزت ساتل کېږي.

### ۱،۳،۱،۶ د بدل واده

دا د اجبـاري واده يو بـل ډول دی چې د دوه کورنيو نجونې يو لـه بـل سره تبـادله کېږي، د دې واده لوی لامل د کورنيو اقتصـادي سـتونزې ښـودل شـوي دي. خو سـتونزه دا ده چې په زياتره مواردو

کې د نجلۍ رضـــایـت په پام کې نه نیول کېږي او د دې واده د مهر د ناڅرګندتیا له امله، د دې واده شرعي حیثیت هم تر پوښـتنې لاندې دی. دا چې مهر د ښځې مال دی، خو په دې واده کې یو سړی سره د واده لپاره د ښـځې مالي حق څه دی؟ همدارنګه، په واده کې د ښـځې رضایت د واده د صحت له شرایطو څخه دی. ایا په دې ډول ودونو کې د ښځې د رضایت شرط ته هم پاملرنه کېږي؟

کـه چېري پـه دې واده کې مهر مثـل (هغـه مهر چې د خویندو، کاکالورګانو یا ماما لورګانو لپاره چې مخکې واده شـوي وي، ورکړل شـوی وي) ښـځو ته ورنکړل شي، نو دا واده به د شرعیت له مخې سـم نه وي. همدارنګه هغه نجونې چې قانوني عمر ته نه وي رسـیدلې، له رضـایت پرته د هغوي ودول هم جواز نه لري.[٦]

دا ډول واده د جاهلیت په زمانه کې د عربو ترمنځ دود و، چې په دې رســاله کې به ترې یادونه وشي.



[٦] – البحر الرائق، جلد ۳، ص ۱۱۸.

## ۱,۳,۳ د واده زيات لګښتونه

يوه لويه ستونزه چې د واده په اړه په افغانستان کې شتون لري، د واده زيات لګښتونه او ولور اخيستل دي چې د نجلۍ د کورنۍ له لوري اخيستل کېږي، چې امکان لري له کوژدي وروسته په دې اړه د دواړو کورنيو ترمنځ ستونزې هم رامنځته شي.

له ځوانانو څخه د زيات ولور اخيستل، تر ځو کلونو پورې هغوی د پورونو تر بار لاندې راولي. ولور د واده پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ دی چې له امله يې ځوانان په زيات عمر کې واده ته اړ کېږي. يوه بله ستونزه دا ده چې زيات ولور د شيربها، پيشکش، رمې او نورو په نومونو اخيستل کېږي چې د افغانستان په زياترو ولايتونو کې په يو دود بدل شوی دی.

د دغو ستونزو د مخنيوي لپاره، په واده کې د ډېرو لګښتونو د مخنيوي قانون وضع شوی دی. په دې قانون کې ځوارلس ډوله دودونه ذکر شوي دي چې د افغانستان په مختلفو سيمو کې ورته خلک پابند دي، خو دا دودونه زياتو لګښتونو ته اړتيا لري.

د کوژدې مراسم، د مېلمستياو مراسم، واده يا نکاح، تخت جمعي، پايوازي، شب شش، سنت ګيري، د زېږيدنې ورځ لمانځنه، کاکل ګيري، د ماشوم نوم اېښودونه، د فراغت مرسام، له حج او نورو سفرونو څخه د راستنيدو مراسم په دغه قانون کې ذکر شوي دي. په دې قانون کې يواځې دوه دودونو د نکاح عقد او د کوژدي مراسمو ته اجازه ورکړل شوي ده، خو دغه نور ډولونه يې منع کړي دي. د دې قانون د تطبيق لپاره د زوم او ناوې په کورنيو او همدارنګه په هغو هوټلونو او د واده او نورو مراسمو په تالارونو يو شمېر مکلفيتونه وضع شوي دي چې د خوړو ډول او د مېلمنو شمېر يې برخې دي.

## ۱,۳,٤ زده کړو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي مخنيوی

ټول وګړي په دې نړۍ کې يو شان حق لري. دا حق د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو نړيوال ژمنليک کې د انسانانو د لومړنيو حقونو په نوم ياد شوي دي او ټولو لپاره د لومړنيو اجباري وړيا زده کړو حق، د منځنيو زده کړو ته د ټولو خلکو د لاسرسي زمينه برابرول او همدارنګه لوړو زده کړو ته د ټولو خلکو د مساوي لاسرسي زمينه برابرولو څخه عبارت دي. د ملګرو ملتونو د علمي، فرهنګي او روزنيز سازمان غړو پهس ۱۹٦۰ کال د ډسمبر په ۱۴ نېټه په خپله يوه غونډه کې، په زده کړو او روزنه کې د عدم تبعيض کنوانسيون تصويب کړ چې په هغې کې په پوهنه او روزنه کې د هر ډول تبعيض د

مخنیوي ټینګار شــوی دی. په دې کنوانســـیون کې د تبعیض د هر ډول توپیري چلند، محرومولو، د محدودیت رامنځته کولو یا د نژاد، پوســتکي رنګ، جنســیت، ژبې، دین، عقیدې، ســیاسي کومې بلې عقیدې له مخې د ترجیح ورکولو په معنی تعریف شوی دی.

د نجونو او د پوهنې او رزونې پر وړاندې ستونزې د بشر د بنسټیزو حقونو د سرغړونې یو ناخوښ رواج دی. په نجونو باندې د اغېزو له مخې، دغه ستونزه د ماشومانو د ودونو د ناوړه اغېزو یوه پایله ده. د دې پربنســټ، په کم عمر کې د نجونو نه یواځې دا چې د نجونو ژوند بربادوي، بلکې د هغوي د ښه ژوند ظرفیت هم له منځه وړي.



## ۱,۳,۵ روغتيايي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي مخنيوی

غوره روغتيـايي خـدمتونو ته د افغانســتان د خلکو لاسرســـی ډېر محدود دی او د مېندو او نوو زېږېدلو ماشــومانو د مړينې کچه زياتوي. روغتيايي خدمتونو ته د نجونو او ښــځو لاسرســـی تر ډېرې اوږدې زمانې پورې يوه ســتونزه وه. په ۲۰۱۹ کې د يوې سروې پر بنســټ، په افغانســتان کې په هرو سل زرو مېندو کې ٦٦١ مېندې د زېږون پرمهال مري.[۷] دا د نړۍ په کچه دويم ټکان ورکوونکي ارقام دي. د مېندو د مړينې کچه د افغانستان په مختلفو کليوالي او ښـاري سيمو کې توپير لري. د مېندو مړينـه د زېږون پرمهـال مســلکي روغتيـايي کـارکوونکو تـه د ښــځو پـه لاسرسي پورې تړلې ده. پـه افغانســتان کې زياتره ولادتونه په کورونو کې د مســلکي روغتيايي کارکوونکو په نه شــتون کې ترسره کېږي[۸] داسې راپورونه شتون لري چې ښيي زياتره ښځې د ناروغۍ پرمهال ډاکټر ته د ورتګ اجازه نه لري او يا يې کورنۍ ډاکټر ته د ورتګ اړتيا نه احسـاسوي تر هغې چې ناروغي ښه سخته شوي نه وي. د افغانســـتان د عامې روغتيا وزارت او نور اړوند بنســـټونه بايد د روغتيايي خدماتو د کيفيت د لوړولو سربېره، د روغتيـايي مســـايلو او د نـاروغۍ پرمهال ډاکټر ته د مراجعه کولو په اړه د خلکو پوهاوی هم زيات کړي.

## ۱,۳,٦ ميراث او مهر ته د ښځو د لاسرسي مخنيوی

د قرآن کريم له مخې د ميراث په وېش کې په واضــح ډول د وفات شـــوي د مېرمنې، لور او مور حقونه په پام کې نيول شـوي دي، نو په دې اسـاس د اسلام مبارک دين ښځو ته د ميراث ورکولو سره مخالفت نه لري، بلکې په قران کريم کې ميراث ډېر په دقت سره وېشـل شـوی دی، خو د ميراث حق ته د ښــځو لاسرســـی يا هغوی ته د ميراث حق نه ورکول او د هغوی محرومول د شرعيت او اســلامي قانون خلاف کړنه ده.

د دې لپاره بېلابېل دلايل وړاندې شوي دي چې ښځې نه شي کولی د ميراث حق ترلاسه کړي. دا دلايـل پـه ټولـه کې په افغاني ټولنه کې د نارينه ســالارۍ يو انځور دی. د يوې څېړنې د موندنو له مخې، چې په ۲۰۱۱ کې د ښځو او ماشومانو د څېړنيز بنسټ له لورې ترسره شوی، نږدې ٪۴۴ ځواب ورکوونکو باور درلود چې ښــځو ته بايد د ميراث حق ورنکړل شي، ۴۳ ســلنه مرکه کوونکو باور درلود چې ښـځې ميراث ته د لاسرسي حق نه لري. دا په افغانســتان کې يو عام فکر دی چې ښـځې د نورو

---

[۷] – سايت دويچه وله ۲۷,۰۳,۲۰۱۹ https://p.dw.com/p/۳Fkvm

[۸] – نهاد تحقيقاتی حقوق زنان و اطفال، عرف، عنعنات و باورهايی که سبب نقض حقوق زنان می‌شود، ۲۰۱۳، ص۲٦.

ملکيت او شتمني بولي او دا باور شتون لري چې نجوني له واده وروسته د مور او پلار کور پرېږدي او ځي. خو له بل پلوه، زامن له خپلو کورنيو سره پاتې وي او يا لږ تر لږه تمه کېږي چې خپلو کورنيو سره پاتې شي او د زړښت پرمهال د خپلو پلرونو پاملرنه کوي او د هغوي د شتمنيو ساتنه کوي. په همدې اساس، ځينې داسې انګېرې چې يواځې زامنو ته بايد د ميراث حق ورکړل شي، ځکه چې په دې ډول جايداد او شتمني له کورنۍ سره پاتې کېږي او د مېړه کورنۍ ته نه انتقالېږي. په ښځو باندې د خپل ميراث حق د هېرولو په تړاو فشار مخ په زياتېدو دی، او آن په زياتره مواردو کې خو خپله ښځې هم نه غواړي چې د ميراث حق يې ترلاسه کړي.[9]

### ۱,۳,۷ د ښځو د هڅولو محدوديت

له بده مرغه، موږ په ټولنه کې د ښځو د کمرنګه ګډون شاهد يو. په افغانستان کې په بازار کې کار کول او له نارينه و سره سيالي کول د ښځو پر وړاندې يوه جدي ستونزه ده. د افغاني ټولنې يو شمېر نارينه آن نه شي کولی چې د يوې ښځې انځور وزغمي. په ښارونو کې د ټاکنو پرمهال د ښځينه نوماندانو د انځورونو څېري کول يوه ډېره عامه پديده وه. په ټولنه کې د مرد سالارۍ شديد باورونه د دې لامل شوی چې د ټولنې يوه د پام وړ برخه ونه منل شي او دا چې ښځې او نارينه په مساوي ډول د ټولنې په بېلابېلو برخو کې ګډون ولري.

### ۱,۳,۸ د بيان ازادۍ محدوديت

د کايناتو، په ځانګړې ډول د انسان د ټولو حقايقو پېژندنه د دولت او لويو انسانانو په واک کې هم نه ده لکه څنګه چې ځينې باور لري، او نه د اکثريت خلکو په واک کې ده لکه څنګه چې غربي ډيموکراسي ده، بلکې يواځې الله (ج) دی چې د انسان د پېچلو اړخونو او د ټول نظام په خلقت او فطري او تکويني قوانينو پوره پوهه لري. الله (ج) انسانان ازاد پيدا کړي دي او د خپل ليدلورې د بيانولو لپاره د ښځينه يا نارينه په خاص کولو کوم ايت شتون نه لري، د قانون ټاکونکی اسلامي شريعت دی. په خپل سر او الهي قانون ته له پاملرنې پرته د بيان د ازادۍ محدودول د اسلام او اسلامي شريعت ضد عمل دی.

[9] – نهاد تحقيقاتی حقوق زنان و اطفال، عرف، عنعنات و باورهايی که سبب نقض حقوق زنان می‌شود، ۲۰۱۳، ص ۲۷.


آزادی
بیـــان
حـــق
مــاست

### ۱,۳,۹ د لور په پرتله زوی ته ارزښت ورکول

له بده مرغه، په افغانســتان کې يو بڅايه رســم شــتون لري چې کومه عقلي، منطقي او ديني بنسټ نه لري چې په کورنيو کې د لوڼو په ځای هلکانو ته ډېر ارزښت ورکول کېږي. د دې علت ښايي د افغانســتان په کليوالي سـيمو کې د ژوند ډول وي چې په د خلکو ژوند کرنې او مالدارۍ پورې تړلی وي او هلکان د کورنۍ د کاري ځواک په توګه ډېر اهميت لري.

يو بل دليل ښـايي دا وي چې زيات خلک فکر کوي چې په زړښت کې به يې نارينه اولاد ډېره د هغوی مرسـته کوي او ورسره به مل وي. په داسې حال کې چې لوڼې د زامنو په پرتله څو وارې ډېر په خپل مور او پلار زړه سواندې وي او په زړښت کې د خپل مور او پلار ډېر خدمت کوي.

### ۱,۳,۱۰ په تصميم نيونه کې د ښځو نه ګډون

پـه مختلفو کچو د کيفيت لـه نظره پـه تصــميم نيولو کې د ښــځو ډېر کم دی. کـه څـه هم افغانستان د جنسيت د مساوات په تړاو نسبتاً هر اړخيز حقوقي چوکاټونه او بېلابېل ميکانيزمونه لري، خو دا ميکانيزمونه لا هم له خنډونو سره مخ دي. دولتي بنسټونه په زياتره مواردو کې د جنډر موضوع شـاملولو ته پام نه کوي. په وزارتونو او ښـاروالیو کې د جنډر برخې کارکوونکي څنډې ته کېږي او ډېر کم شمېر يې په فعاليتونو او د اغېزو په ارزولو او يا د قوانينو او پاليسيو د مسودو په څېړلو او ارزولو کې برخه لري.



## ۲,۱ تر اسلام مخکې دودونو سره د اوسنيو ناخوښو دودونو پرتله

د جاهليت په دور کې غير انساني دودونه موجود وو او دغه دودونه او رواجونه عيب نه ګڼل کېدل بلکې په هغه وخت کې د ټولنې جوړوونکې برخه بلل کېده. په دغه دور کې يو شمېر سخت دودونه لکه د ژونديو لوڼو خښول، د شرابو څښل او فحاشي، تېرى کول، جنګ کول، وينه تويول او داسې نور خرافات په عربو کې رواج وو چې په قرآن کريم کې د لومړۍ درجه جاهليت په توګه ياد شوي دي. د اسلام لومړۍ مبارزه د جهالت دور له ناخوښو دودونو سره پېل شوه چې د اسلام په لومړۍ مرحله کې موجود وو. هغه څه چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ژوند له مطالعې څخه ترلاسه کېږي دا دي چې د نوموړي ژوند د هغه وخت د رواجونو، خويونو او ناخوښو دودونو سره په مبارزه کې تېر شوی.

همدارنګه، کله چې د حضرت محمد (ص) احاديثو ته مراجعه وکړو، په دويم ډول جاهليت هم تاکيد شوی دی. له پيغمبر اکرم (ص) څخه روايت شوی دی چې فرمايي: "زه د دوو جاهليتونو ترمنځ چې دويم يې تر لومړي ډېر سخت دی، رالېږل شوی يم." دا حديث هغه مطلب ته اشاره کوي چې د جاهليت د زماني رواجونه دوام لري او په هر مسلمان فرض دي چې د پيغمبر (ص) په څېر له دغو ناخوښو دودونو پر وړاندې مبارزه وکړي څو جهل او بې عدالتي له ټولنې څخه ورک شي. دې پسې، جاهليت سره سره د اسلام د مبارزې نښو ته اشاره کوو:

## ۲,۲ له ناخوښو دودونو او ښځو په تړاو جاهلو رواجونو په وړاندې د اسلام مبارزه

د اسلام په راتګ او د ژغورونکي پيغام په خپريدو سره د جاهليت په دوران کې د ښځو په تياره ژوند کې د رڼا څرک په څېر څرګند شو. تر اسلام مخکې، ښځې سره د يوې شتمنۍ او وسيلې په توګه عمل کېده او د مال سره يوځای به په ميراث کې وړل کېده. د اسلام په راتګ سره ښځې ته تازه پېژندنه ور په برخه شوه او ښځې د جاهليت له قيد و بند څخه خلاصې شوې او انساني ځای يې بېرته ژوندی شو.

## ۲٫۲٫۱ اسلام او د ښځو درناوی

د ښځو درناوی داسې یو عمل دی چې الله (ج) یې سپارښتنه کړې ده او په دې اړه فرمايي: «و عاشروهن بالمعروف» (النساء آیه ۱۹) او له ښځو سره په نیکۍ چلند وکړئ. په دې ایت کې د معروف مطلب همغه غوره او خوښ عمل دی چې د الله له لورې منل شوی دی او د خلکو په اصطلاح د نیک او غوره کار په توګه منل شوی دی. په دې رساله کې او په نورو ډېرو کتابونو کې ورته اشاره شوي ده چې هغه فرهنګ چې تر اسلام مخکې په عربو حاکم و، ډېر وروسته پاتې و. په ټولنیز ژوند کې ښځو ته د نارینه د لوبو د وسیلو په سترګه کتل کېدل او د میراث او رای حق یې نه درلود. ورپسې اسلام راغی، د ښځو لاسنیوی یې وکړو او هغوی یې د انساني حیثیت تر پولو وروسولې او د نارینه ترڅنګ یې د انسانیت لوړو ته پورته کړې او د ژوند په ټولو برخو کې د هغوي په ارزښت قایل شو او په دې سره په کلکه د جاهلیت له رواجونو په وړاندې ودرېدل. په دې اړه قرآن کریم کې داسې راغلي دي:

«لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ»؛ هغه څه چې نارینه و ګټلي د هغوی دي، او هغه څه چې ښځو ګټلي همغوي څښتنانې دي. (آیه ۳۲ سوره نساء).

«وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِی عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ»؛ د ښځو لپاره همغه شان دندې چې د هغوي پر اوږو دي، غوره حقونه ټاکل شوي دي. (آیه ۲۲۸ بقره).

په دې ایت کې الله (ج) فرمايي چې ښځې لکه څنګه چې د خپلو مېړونو ترڅنګ دندې لري، همغه شان له حقونو هم برخمنې دي او همدا د عدالت غوښتنه ده. د ښځو په حق کې د عدالت قانون د نارینه و په څېر رعایت شوی دی خو ایا لازمي ده چې په ټولو دندو کې سره مساوي اوسي؟



د هغو توپيرونو له مخې چې د ښـځې او نارينه په جسـمي او روحي ځواک کې شـته، د دې پوښـتنې په ځواب کې روښـانه کېږي. ښځه زيات عواطف او احسـاسات لري او همدا غورهوالی باعث کېږي چې کـه غواړو عدالت تامين کړو، نو ښـځو ته بايد د هغوي د شـان او حيثيت له مخې دندې وسـپارل شي. په همدې اسـاس، اړينه ده چې هر سـړی بايد خپل حق ترلاسـه کړي او هره ښـځه او سـړی بـايـد د خپلې وړتيا، توان، موخو او د ځانګړې جوړښـت له مخې خپل دنده ترسره کړي. هغه کـارونـه چې ښـځې يې نـه شي کولی بايد نارينه ورسره همکاري وکړي او هغه چې نارينه يې نه شي کولی، د ښځو په مرسته ترسره شي.

د ښـځو د انسـاني حقيقت سمه او کره مطالعه لکه څنګه چې د نارينه و کېږي، ترټولو غوره لاره ده چې متعادل پايلو ته ورسـېږو. اسـلام ښـځو ته په درنه سـترګه ګوري او په دې ځای کې د اسلام له نظره د ښځو درناوي په اړه يو شمېر احاديثونو يادونه کوو:

پيغمبر اکرم صـلی الله عليه وسـلم فرمايلي دي: «جلوس المرء عند عياله احب الی الله تعالی من اعتکاف فی مسجدی هذا»؛[۱۰] د الله تعالی په نزد له خپلې ښځې سره د يو سړي کېناستل الله ته زمـا پـه جومـات کې تر اعتکافه غوره دي. د نبي (ص) په جومات کې اعتکاف او پاتې کېدو ثواب هغه څه دي چې هر مسـلمان يې د ترلاسـه کولو هيله لري. په نبوي جومات کې د اعتکاف فضـيليت خورا ډېر دی، خو له خپلې مېرمنې په مينه، محبت سره ناسـته تر هغې هم ډېر اجر لري. دا د يوې ښـځې طبعي اړتيا ده چې مېړه يې يو څو شـېبې له هغې سره کېني او هغې سره خبرې وکړي او خبرو ته يې غوږ کېږدي، او ورځني کارونو ترڅنګ بايد خپلې ښـځې ته هم يو څخه وخت ورکړي. خپله سـړي هم دې ته اړتيا لري. دغه کار د ښـځې او مېړه ترمنځ عاطفي اړيکې پياوړې کوي، او همدا علت دی چې له خپلې مېرمنې سره په کور کې ناسـته د الله تعالی په نزد په نبوي جومات کې تر اعتکاف هم غوره دی.

د اسـلام خوږ پيغمبر (ص) په يو بل ځای کې فرمايلي دي: «لا يخدم العيال الا صديق او شهيد او رجل يريد الله به خير الدنيا والآخرة.»[۱۱] د خپلې کورنۍ خدمت کول د «صـديق» يا «شـهيد» يا هغه شخص ځانګړنه ده چې الله تعالی غوښتي وي دغه سړي ته د دنيا او اخرت خير ورسوي.

[۱۰] – تنبيه الخواطر، ج ۲، ص۱۲۲.

[۱۱] – بحارالانوار، ج ۱۰٤، ص ۱۳۲.

اسـلامي فکر ښـځي او نارينه ته د مسـؤليتونو په تړاو په يوه سـترګه ګوري او دواړه د ښه ژوند په موخه د يوې سـالمې ټولنې د رامنځته کولو لپاره مهم بولي او د سـموالي يا خرابوالي په موخه د دواړو مسـؤليتونه يو شـان بولي، او د هغوی د ځانګړنو له مخې هغوي ته دندې او مسـؤليتونه ورسـپاري څو انساني ځانګړنې د دندو او مسؤليتونو بشپړولو سره سمون ولري.

قرآنکريم پرته له دې چې سـړو ته د ښـځو په نسـبت د لوی يا مهم رول قايل شي، يا په حقيقي ژونـد کې د يو بـل مســؤليتونـه پـه غـاړه واخلي، په دې معنی چې په ژوند کې د ســړو او ښــځو عام مســؤليتونه او دندې د هغوي انســاني مســؤليتونو په چوکاټ کې د ځانګړو دندو لکه مور کېدو، پلار کېدو يا مېرمن کېدو کې نه پټېږي،

بلکې دا رول عام دی چې ځانګړو دندو ته پياوړتيا وربخښـــي او د انســـان په روح او فکر باندې مثبت اغېز کوي.

## ۲،۲،۲ اسلام او د لور ارزښت

د اسـلام له نظره، د لور او زوی ترمنځ کوم تبعيض او توپير شتون نه لري، د دې ټکي د دليل په توګـه وايو چې د اللـه تعـالی خلقـت لـه حکمـت څخه خالي نه دی او د هغوي له ډلې د اولاد لرل هم خپل حکمتونه لري او مومن انســـان بايد هېڅکله د خپل رب له لورې په ورکړل شـــوې ډالۍ اعتراض ونکړي او پـه ځـانګړې ډول د لور ډالۍ چې د خپلې مور ملګرې او مرســـتـه کوونکې او د خپـل پلار رازساتونکې وي.

ځيني داسـې حديثونه هم لرو چې د لور په ارزښـت ډېر ټينګار کوي، د دغو حديثونو له ډلې په يو حـديث کې پيغمبر اکرم (ص) فرمايلي دي: «مِن بَرَکَة المَراهِ تَبکيرُها بالبَناتِ» دا د هغې مېرمنې د برکت نښه ده چې لومړی اولاد يې لور وي. [۱۲]

په صـحيح مسـلم کې له حضرت انس بن مالک (رض) څخه روايت دی چې وايي، رسـول الله (ص) داسې فرمايلي دي: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ کَهَاتَيْنِ وضَمَّ أَصَابِعَهُ» هغـه چا چې د دوه لورګانو پالنه وکړه او هغوي يې لويې کړې څو بالغې شي، نو خپلو دوو ګوتو ته يې اشاره وکړه چې د قيامت په ورځ به د دغو دوه ګوتو په څېر له ما سره وي.[۱۳]

---

۱۲ ـ مکارم الأخلاق، ص ۲۲۹.

۱۳ – مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب فضل الإحسان إلى البنات، شماره ۲۶۳۱.

امام احمد بن حنبل په خپل يو مسـند کې روايت کوي چې وايي: له رسول الله (ص) څخه مې واوريدل چې فرمايل يې: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلاَثُ بَنَاتٍ فَصَبَرَ عَلَيْهِنَّ وَأَطْعَمَهُنَّ وَسَقَاهُنَّ وَكَسَاهُنَّ مِنْ جِدَتِهِ (أي ماله) كُنَّ لَهُ حِجَاباً مِنَ النَّارِ». يو څوک چې درې لوڼې ولري او د هغوي د خوړو او ژوند بندوبست يې وکړ او د هغوي لپاره يې له خپل مال څخه لباس واخيسـت او د هغوي په پالنه يې صـبر وکړ، نو د قيامت په ورځ به يې دغه عمل د اور پر وړاندې د خونديتوب لامل شي.[١٤]

خو لـه بده مرغه، ليدل کېږي چې کورنۍ د خپلو لورگانو لازم درناوی نه کوي، په داســې حال کې چې په يو حديث شريف کې له رسـول الله څخه نقل شـوي دي چې درې ځل يې خپلو امتيانو او اصــحابو ته ســپارښــتنه کړې ده چې د خپلو اولادونو سره په مســاوي ډول چلند وکړي: «اعْدِلُوا بَيْنَ أَبْنَـائِكُمْ، اعْـدِلُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ، اعْدِلُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ» له خپلو اولادونو سره په عدالت سره چلند وکړئ. له خپلو اولادونو سره په عدالت سره چلند وکړئ.[١٥]

د جهـالـت دورې لـه زوال وروســتـه اوس هم په اســلامي ټولنو کې دا ډول ناوړه خويونه ليدل کېږي، کوم چې د اسـلام تر راتگه مخکې موجود وو، هغه رواجونه چې په هېڅ ډول قاعده او بنسټ نه دي ولاړ او يواځې ټولنيز تقليد دی چې د اسلام تر راتگ مخکې د جهالت زمانې سره تړاو لري.



[١٤] – مسند احمد حنبل، شماره ٦١٧٦٢ و سنن ابن ماجه، شماره ٣٦٥٩.

[١٥] – مسند إمام أحمد – ج ١٤، حديث ١٨٣٦٤، ص ١٧٧.

## ۲،۲،۳ اسلام او په ټولنه کې د ښځې شتون

کله چې ويل کېږي ښځه د کورنۍ محور او د کورنۍ د چاپېريال خوښ ساتونکې او خپل خاوند او اولادونو د مينه ناکې روحيي برابروونکې ده، دا وينا ذهن ته لار مومي چې ټولنه او سياست د ښځې له شـتون څخه محروم دي او يا ښـځه له دوي محرمه ده. په داسـې حال کې چې ښـځې د انسـاني ټولنې د نيمـه برخې پـه توګـه، د ټولنو او ملتونو پـه تاريخ کې د پام وړ رول لوبولی دی او لوبوي يې او اسلام هم د تاريخ په اوږدو کې د ښځو شتون ستايلی دی او د دغه رول د زياتوالي سپارښتنه يې کړې ده.

د اسـلام په تاريخ کې داسـې پېښـې شوي دي چې ښځو په کې اغېزناک رول لوبولی دی. کله چې د اسـلام پيغمبر نوی نويو مسـلمانانو څخه د بيعت غوښتنه وکړه، ښځو هم په دې برخه کې د پام وړ رول ولوباوه. «بيعت نسـاء» يا د ښځو بيعيت کله چې په مسلمانانو باندې د کفارو فشار زيات شو، د اسـلام په تاريخ کې د ښځو د رول يوه نه هيريدونکې بېلګه بلل کېږي. د مدينې د اوسيدونکو په دويم بيعت کې هم ځو ښځو برخه واخېسته او له نبي (ص) سره يې بيعت وکړ چې څنګه د خپلو اولادونو او کورنيو ساتنه کوي، په همغه شان به د رسول اکرم (ص) ساتنه هم کوي.



### ۲,۲,٤ اسلام او په ودونو کې زيات لګښتونه

پـه ودونو کې ډېر لګښـــتونه د اســـلام له مخې اسراف بلل کېږي او په قرآن کريم کې د اسراف کلمه ۲۳ ځله تکرار شوې ده چې الله تعالی به بېلابېلو تعبيرونو سره هغه منع کړې دی:

... لا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لا يحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (انعام/ ١٤١)

اسراف مه کوئ ځکه چې الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

... إِنَّهُ لا يحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (اعراف/ ٣١)

الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

... أَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحابُ النَّارِ(غافر/ ٤٣)

اسراف کوونکي د دوزخ خاوندان دي.

### ۲,۲,٥ اسلام او د بدل واده

لکه څنګه چې اشــاره ورته وشــوه او د اســلام پيغمبر هم وړاندوينه کړې وه، د جاهليت د زمانې څخه د څو پېړيو له تېريدو وروســته هم د هغه زمانې نښــې شتون لري. د بېلګې په ډول، د جاهليت د وخت د ودونو يو ډول چې شغار نوميده چې د بدل واده هم ورته ويل کېده او هغه داسې واده و چې د کورنيو دوه مشرانو به خپلې لورګانو يو بل ته يا خپلو زامنو ته په نکاح کولې. په اسلام کې دا ډول واده منع شـوی دی او دليل يې هم د رسول الله (ص) يو حديث دی چې د بدل واده مذمت يې کړی دی: «عن ابن عمر عن النبی صـلی الله عليه و سـلم قال لا شـغار فی الاسـلام» يعنی په اســلام کې د بدل واده روا نه دی.[١٦]

له بده مرغه، اوس هم دا ډول واده د هېواد په ځينې برخو کې شتون لري او اسلامي علماء بايد د دغه واده د ناروا والي په هکله خلکو ته خبرې وکړې او پر وړاندې يې خپل حســاسـيت څرګند کړي. د بدل واده حقيقت دا دی چې يو شـخص بل شخص ته وړانديز وکړي چې زه خپله خور يا لور تا ته په نکـاح درکوم پـه دې شرط چې تـه هم په بدل کې خپله خور يا لور ما ته په نکاح راکړې او د هېڅ يوې

[١٦] – عمده القاری شرح صحيح البخاری جلد ۲۹ صفحه ۹۸.

ښـــځې لپاره د مهر حق نه وي ټاکل شـــوی بلکې يوه ښـــځه د بلې عوض يا بدل وي، دا ډول واده د اسلامي شرعيت له مخې ستونزه لري.

خو په هغه صـــورت کې چې مهر مثل ورکړل شي، بيا هم دا ډول واده په حنفي فقه کې مکروه ګڼل شوی دی، خو د دواړو اړخونو نکاح د شرعيت له مخې نافذه ده. مهر مثل هغه مهر ته ويل کېږي چې د دغه ښـځې د خورګانو يا کاکا لورګانو ته ورکړل شـوی وي. د نکاح هر ډول عقد لپاره که هغه د بـدل وي يـا بل، مهر په خاوند باندې لازمېږي او مېړه يې په ورکولو مکلف دی. د نجلۍ د خوښـــې په تړاو داســـې وايو چې که چېرې د نجلۍ د واده قانوني عمر پوره شـــوی وي، د هغې له اجازې پرته يې نکـاح جواز نه لري. په دې اړه يو فقهي عبارت په دې ډول دی: «.. ولاتجبر بکربالغه علی النکاح ای لاینفـد عقـد الولی عليهـا بغير رضـــاهـا عنـدنـا» يعنی يوه بـالغـه نجلۍ څوک د نکـاح په کولو نه شي مجبورولی، يعنی که چېرې د نجلۍ مشران د نجلۍ له خوښـې پرته دا ډول تصرف وکړي، نو نافذ نه ګڼل کېږي.[۱۷]



[۱۷] – کتاب البحرالرائق جلد ۳ صفحه ۱۱۸.

## ۳,۱ د ناوړه دودونو پر وړاندې د مبارزې حل لاره

په هېواد کې د رواج دودونو او رسـمونو له څېړنې څرګنده شـوه چې د دیني او ټولنیز پوهاوي د نه شـتون له امله په ټولنه کې ناوړه دودونه شتون لري. زموږ په اوسنۍ ټولنه کې، نه یواځې د ښځو په برخـه کې، بلکې له بده مرغه د ټولنې په زیاتره برخو کې ګډوډۍ شـــتون لري چې تر ټولو لوی عامل یې د خلکو فرهنګي او دیني پوهـاوي ټیټوالی دی. د دغو نـاوړه دودونو د بنســـټیز حل لپاره اړینه ده چې ټول اړوند قشرونه د دغه وضعیت د ښه والي لپاره بنسټیز او عملي ګامونه پورته کړي.

د یوې ټولنې پـه فرهنـګ بـانـدې اغېز لرونکې عوامـل، د ټولنې پـه څلورو برخو کې څرګندېږي چې له سیاسي، قضایي، اقتصادي او فرهنګي نظامونو څخه عبارت دي.

د ناوړه دودونو پر وړاندې مبارزې لپاره باید له دغو څلورو نظامونو همکاري ترلاسه شي څو ټولنه د ناوړه دودونو له شتونه پاکه شي. په مشخص ډول د څلور واړو نظامونو لپاره وړاندیزونه شتون لري:



### ۳،۱،۱ سیاسي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه

زموږ د دولت چارواکي د خلکو د استازیتوب په توګه دنده لري چې د لنډمهاله، منځ مهاله او اوږدمهاله ستراتیژیو او پلانونو په طرحه کولو کار وکړي، او د خپلو پلانونو او ستراتیژیو یوه برخه دې د ناوړه رواجونو او دودونو ختمولو ته ځانګړې کړي، څو په تصویب سره یې د اداراتو، بنسټونو او وزارتونو برنامې د همدې موخې سره ولیکل او چمتو شوي.

### ۳،۱،۲ قضايي نظام او ناوړه دودونه

د ناوړه دودونو سره مبارزې د فعالیتونو یوه برخه د افغانستان قضایي نظام پورې اړه لري، ځکه چې د دغو رواجونو په ترسره کولو سره د انسانانو حقونه تر پښو لاندې کېږي او پاملرنه ورته نه کېږي. په همدې اساس، د هېواد قضایي بنسټونه دنده لري چې د قوانینو په وړاندیز او تصویبولو سره دغو قضیو ته لار پیدا کړي او له سرغړوونکو سره قانون چلند وکړي.

### ۳،۱،۳ اقتصادي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه

په ټولنه کې ځینې ناوړه دودونه د اقتصادي فقر له امله دي، په دې اساس، کله چې ټولنه د شتمنۍ له مخې یو مناسب حد ته ورسېږي، د ناوړه دودونو په کچه لکه تر وخته مخکې ودونو، یا د بدل په ودونو کې به کموالی راشي چې د اقتصادي فقر له امله ترسره کېږي.



## ۳,۱,٤ فرهنګي نظام او ناوړه رواجونه او دودونه

د یوې ټولنې بـدلون او پرمختـګ یو فرهنګي بهیر دی چې د زمینې په برابریدو سره په فکري او فرهنګي لحـاظ رامنځتـه کېږي. پـه دغـه بدلون کې بېلابېل عوامل برخه لري، تر ټولو مهم عامل چې کولی شي د یوې ټولنې فرهنګي وضعیت ښه کړي، د همغه ټولنې له فرهنګي نظام څخه عبارت دی.

په لومړي پړاو کې باید په ټولنه کې اغېز لرونکي فرهنګي عوامل وپېژنو. د افغانســتان دودیزې ټولنې فضا ته پاملرنه کولی شي موږ سره د ټولنې د ناوړه دودونو پر وړاندې مبارزه یا کمولو کې مرسته وکړي. دیني عالمان، جوماتونه او دیني مدرســې، د ټولنې اغېز لرونکي اشــخاص او ســپین ږیري، ځوانان، ټولنیزې رسنۍ، د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه په دې کې د پام وړ رول لوبولی شي.

### ۳,۱,٤,۱ دیني عالمان او ناوړه دودونه

دیني عالمان دا چې زموږ په ټولنه کې د پام وړ درناوی لري، د ټولنې د فرهنګي کچې په لوړولو کې رول لرلی شي. د جوماتونو امامان او خطیبان خلکو ته د ناوړه دودونو په هکله د اسـلامي تګلارې د روښانه کولو او د هغوی د پوهاوي د کچې د لوړولو په وسیله کولی شي د ناوړه دودونو په کمولو کې د پام رول ولوبوي.

لکه څنګه چې د دې لیکنې په دویمه برخه کې ورته اشـاره وشـوه، د اسلام دین په څرګند ډول د جـاهلیت دورې لـه ډېرو کړنو او پـه ځـانګړې ډول د جاهلو رواجونو په برخه کې مبارزه کړې ده. له دغو ناوړه کړنو سره د اســلام د تعامل تګلاره د دې څرګندونه کوي چې د اســلام دین له ناوړه دودونو سره موافق نه دی. که چېرې د افغانستان دیندار خلک دغه مطلب ته پام وکړي، چې د دوی په ټولنو کې رواج دودونه په اسـلام کې کوم ځای لري؟ که چېرې د دې پوښـتنې ځواب ترلاسه کړي نو د ناوړه دودونو پـه هکله که د هغوی باور او عقیده بیخي له منځه لاړه نه شي، نو لږ تر لږه یو څه کموالی به په کې راشي.

له بده مرغه، لیدل کېږي چې یو شـمېر دیني عالمان د خپل تفسـیر په اسـتناد د دغو دودونو ملاتړ کوي، په داسـې حال کې چې دغه دودونه د اسلامي عقایدو په ضـد دي. نو په همدې اسـاس، دغو مذهبي مشرانو ته د ښـوونیزو برنامو برابرول د ناوړه دودونو د پای ته رسولو یوه تګلاره کېدی شي او د دغو عـالمـانو د فکر او بـاور پـه بـدلولو سره د پند او عبرت په توګه د ټولنې د وګړو باور هم د ناوړه دودونو په اړه چې د اسـلامي شرعیت سره په ټکر کې وي او د ښـځو پر وړاندې د تبعیض لامل کېږي،

کمېږي. د بېلګې پـه ډول، ديني عـالمـان کولی شي چې د کم عمره نجونو د نکـاح او په ودونو کې د زياتو لګښـتونو د مخنيوي لپاره په جدي ډول مبارزه وکړي. د هېواد روحاني مشران او ديني عالمان د ناوړه دودونو چې د اخلاقي فســاد، د ښـځو پر وړاندې تاوتريخوالي باعث کېږي، د نارواوالي په هکله خلکو ته د پوهاوي په ورکولو سره دغه موضوعات د خلکو ذهنونو ته ورسوي.

### ۳,۱,٤,۲ ځوانان او ناوړه دودونه

ځوانان او هلکان د افغانســتان د ټولنې د راتلونکې د جوړوونکو په توه د يوې ســالمې ټولنې په جوړولو کې مهم رول لري. خو پوښــتنه دا ده چې د يو ځوان ســپيڅلی ذهن څنګه کولی شــو چې د يوې داســې ټولنې د جوړولو پـه لور رهبري شي چې له هر ډول ناوړه دودونو څخه پاک وي.  خو هغه څـه چې پـه دې ليکنه کې مهم دي، د يو مثبت بدلون په رامنځته کولو کې د ځوانانو رول دی. په يوه ټولنه کې بدلون په کورنۍ کې د افرادو سالمې روزنې سره تړاو لري او د ټولنې د افرادو په روزنه کې د ښـځو رول ته په پام کولو سره په دې ځای کې د ځوانانو رول هم روښـانه کېږي.  په همدې اسـاس، د ناوړه دودونو د کمولو او کمزورې کولو په موخه د فرهنګي او رسنيزو فعاليتونو سربېره بايد په ټولنه کې د ځوانو مېرمنو رول ته هم پاملرنه وشي، په ټولنه کې د ځوانو ښــځو د رول زياتوالی د هغوی د ټولنيز حيثيت په زياتوالي کې رول لوبوي او دا هغه وخت تحقق مومي چې لاندې موارد رامنځته شي:



- د ښځو د پوهنيزې کچې پرمختيا

- د مدني قوانينو وضع کول چې د ښځو د انساني حيثيت او حقونو ته په کې پام شوی وي.

- د کاري شرايطو او ښـــځو د حقونو تامين او د هغوي د ظرفيت لوړونه چې له امله يې هغوي په اقتصادي لحاظ خپلواکې شي.

- د ښځو د حيثيت او ورتياو په اړه د مثبت تفکر بدلون او د ټولنې ذهنيت جوړونه.

- په ټولنيز او کورني نظام کې د ښځې د حيثيت او مقام په اړه د مذهبي باورونو تعديل

- خودآگاهی و مسئولیت‌پذیری زنان در ایجاد جنبش‌ها و نهادهای مدنی و بنیادهای فرهنگی اجتماعی.

## ۳,۲ ناوړه رواجونو سره د دولت مبارزه

سـتره محکمه او لويه څارنوالي، بايد محکمو ته امر وکړي چې د ښـځو پر وړاندې تاوتريخوالي د منع قانون پلي کړي. پوليس او څارنوالان بايد د قانون له مخې هغه ټول شکايتونه چې د ناوړه دودونو په تړاو يې ترلاسـه کوي او په قانون کې جرم ګنل شوي، ثبت کړي. د لويي څارنوالۍ اداره بايد د دغو شکايتونو څېړنې او عدلي تعقيب به اړه په بيړني ډول اقدامات ترسره کړي.

عدليي وزارت بايد د ښـــځو پر وړاندې تاوتريخوالي د مخنيوي کميســـيون په همکارۍ د قانون نافذوونکو ادارو ټولو کارکوونکو ته د ښـــځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي، د اجباري او کم عمر کې د ودونو د پېژنـدنې، څېړنې او همـدارنګـه عدلي او قضـــايي تعقيب په تړاو ښـــوونيزې او روزنيزې برنامې جوړې کړي.

ديني عـالمـان بـايد له حج او اوقاف او ښــځو چارو وزارتونو سره په ګډه د جوماتونو د امامانو او ديني مسايلو ښوونکو ته د ښځو د حقونو او د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي د مخنيوي په اړه پروګرامونه پراخ او ترسره کړي.

مذهبي مشرـــان بايد په څرګند ډول د ناوړه دودونو په اړه د اســـلامي اصـــولو په رڼا کې خبرې وکړي او د ښځو د حقونو په تړاو دې د کارپوهانو ترمنځ مباحثې ترسره کړي.

نړيوال تمويلوونکي بايد د افغانستان د دولت د هغو نوښتونو ملاتړ وکړي چې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي د مخنيوي پلان او د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان په پلي کولو کې زياتوالى راولي.

دا چې يو شمېر ناوړه دودونه د افغانستان په قوانينو کې هم جرم پېژندل شوي دي او هم د اسلامي شرعيت ضد دي، دولت مکلف دی چې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالى مخنيوى وکړي او عاملين يې محاکمه او مجازات کړي او د ښځو پر وړاندې د هر ډول تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره هر اړخيز اقدامات ترسره کړي.

ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي د مخنيوى قانون په هکله د پوليسو افسرانو ته د سيستماتيکو پوهنيزو برنامو برابرول چې د کورنيو مسايلو په څانګو کې کار کوي.

د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي د مخنيوي قانون اړوند محکمې لپاره د لارښود چمتو کول او دغه قانون ته د هېواد د نورو قوانينو سره سمون ورکول، د ښځينه پوليس افسرانو د ګمارنې يا ساتنې په اړه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ستراتيژۍ چمتو کول، د امن کورونو د اړتيا وړ توکو د چمتو کولو او په کې د شته خدماتو پر کيفيت د څارنې په اړه ډاډ ترلاسه کول.

د ښځو او نجونو پر وړاندې د ناوړه دودونو د له منځه وړو لپاره د هر اړخيزې پاليسۍ او ستراتيژۍ چمتو کول چې په هغې کې د اسلامي قانون او شرعيت د ناسم تعبير د مخنيوي لپاره د مذهبي او ټولنيزو مشرانو ښکېلتيا، د مدني ټولنو او رسنيو پر مټ د خلکو او رسنيو د پوهاوي کچې لوړول، د تاوتريخوالي اړوند قضيو د ثبت او راجستر په هکله ډاډ ترلاسه کول، په معياري بڼه د تاوتريخوالي د ټولو انفرادي ډولونو په هکله د شمېر راټولول او نور قانوني اقدامات شامل دي.

په تصميم نيونه کې د ښځو د ګډون په تړاو، دولت په عام ډول او د ښځو چارو وزارت په خاص ډول، بايد د ښځو د مثبت سياسي ګډون په تړاو د عامه فکرونو د بدلون په موخه د عامه پوهاوي کمپاينونه ترسره کړي.

دا مهمه ده چې د سياست په برخه کې د ښځو ونډه څرګنده شي څو وښودل شي چې افغان مېرمنې د يو جوړوونکې ځواک په توګه د هېواد په بيا رغوونه او د سياسي صحنې په بدلولو کې رغنده رول لري.